# ارګ پاڼه

پنځمه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز





**صاحب امتیاز:**
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

**د اړیکي شمېره:**
+93 (0) 202100633

**ایمیل:**
info@gmic.gov.af

**آدرس:**
مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان



د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نیټه: جمادي الاول ۳۰، کال ۱۴۴۳ هجري قمري


## امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده په یوې پراخې غونډې کې ګډون وکړ

د کندهار ولایت مقام د غونډو په عمومي تالار کې د ا.ا.ا. امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده د کندهار ولایت د ټولو ریاستونو د رئیسانو او مرستیالانو، د ټولو حوزو د آمرینو، د ټولو ولسوالیو د ولسوالانو او امنیه قومندانانو او ګڼ شمېر مجاهدینو سره وکتل، چې پرمهال یې د کندهار والي حاجي محمد یوسف وفا، مرستیال والي مولوي حیات‌الله مبارک، امنیه قومندان ملا عبدالغفار محمدي او ګڼ شمېر نورو مسئولینو هم حضور درلود.

یاده لیدنه کې د ا.ا.ا. امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده، لومړی په افغانستان کې د دې سترې فتحې راتلو او د اسلامي امارت له لوري د نړۍ ستر قدرت امریکا او متحدینو ته یې د سختې ماتې ورکولو په موخه ټولو افغانانو ته مبارکي وویله او په خپلو خبرو کې یې وویل، دا نظام په ډېرې قربانۍ سره راغلی، چې موږ باید د شهیدانو توي شوې وینې هیڅکله هېرې نه کړو. د ا.ا.ا. امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبةالله اخوندزاده، په خپلو خبرو کې وویل، پاتې برخه ٦

## د ا.ا.ا. رئیس الوزراء د متحده عربي اماراتو د هویت، تابعیت، ګمرګونو او بندرونو د امنیت لپاره د فدرالي ادارې رئیس سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند د متحده عربي اماراتو د هویت، تابعیت، ګمرګونو او بندرونو د امنیت لپاره د فدرالي ادارې رئیس ښاغلی علي محمد بن حماد الشامسي او مل پلاوي سره په ارګ کې وکتل.
په دغه کتنه چې د ریاست الوزرا مرستیالانو محترم ملا عبدالغني برادر او محترم مولوي عبدالسلام حنفي او د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي امیرخان متقي هم حضور درلود. په پیل کې ښاغلی علي محمد بن حماد الشامسي د افغانستان او اماراتو اړیکې دوستانه او مخکښنۍ وبللې وې ویل، موږ به د افغان ولس د خیر او بهترۍ لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړو.
نوموړي زیاته کړه، متحده عربي امارات د افغانستان اسلامي امارت په غوښتنه په پاتې برخه ٦

## امریکا دارایی های افغانستان را آزاد کنید

برخی از زنان در کابل تظاهرات کرده و خواهان آزاد سازی پول های منجمد شدهٔ افغانستان از سوی امریکا شدند.
این معترضان گفته اند که با انجماد دارایی های افغانستان توسط امریکا، قحطی و گرسنگی در این کشور بیشتر شده است. آنان با خوانش قطعنامهٔ از پیامد های این اقدام امریکا هشدار داده و گفته اند که این کار باعث ازدیاد مهاجرت افغانها به کشور های منطقه و جهان خواهد شد.
آنها همچنان از اتحادیهٔ اروپا، سازمان ملل متحد و بانک جهانی خواسته اند امریکا را قناعت دهند که منجمد نگهداشتن دارایی های افغانستان به نفع هیچ کس نمی باشد.
پس از تسلط کابل توسط امارت اسلامی، ایالات متحده امریکا و متحدانش بیش از ده میلیارد دالر سرمایه افغانستان را منجمد و دسترسی حکومت را به آن قطع کرده است؛ اقدامی که وضعیت اقتصادی این کشور را وخیم تر کرد. #

از روزنامه ملی انیس

## طرح ۸ میلیارد دالری سازمان ملل متحد برای احیاء اقتصاد افغانستان

مقام های بلند پایه سازمان ملل متحد، می گویند که این سازمان برای احیاء اقتصاد افغانستان طرح هشت میلیارد دالری را در نظر گرفته است.
معاون نماینده ویژه دبیرکل سازمان ملل متحد و هماهنگ کننده امور بشردوستانه برای افغانستان، هدف از روی دست گرفتن این طرح را فراهم سازی مواد غذایی، ایجاد شغل، پرداخت قرضه های برق افغانستان به کشورهای همسایه و بازسازی نظام حکومتداری کشور می داند.
رامز الاکبروف، معاون نماینده ویژه دبیرکل سازمان ملل متحد، می گوید: این پول برای تقویت ساختار ها مهم است و به مکاتب، شفاخانه‌ها و سایر بخش های دیگر کمک می کند تا به فعالیت های شان ادامه دهند و این طرح همچنان به مشاغل کوچک و کشاورزان کمک خواهد کرد. پاتې برخه ٦

**امارت اسلامی برای بهبود وضعیت اقتصادی کشور، فراهم کردن فرصت های شغلی و بورسیه تحصیلی برای جوانان و زمینه سازی برای زندگی مرفه برای مردم افغانستان تلاش می کند.**

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

## ”د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د خصوصي سکتور رول مهم دی“

د ریاست الوزراء مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان د صنعت او معدن خونې له مسؤلینو سره وکتل.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد د اقتصادي ودې او د بېکارۍ کچې په له منځه وړلو کې د خصوصي سکتور رول مهم وباله او زیاته یې کړه: خصوصي سکتور پاتې برخه ۵

**زموږ مالي خزانه یرغمل ساتل؛ د بشر حقونو سپکاوی او له فقر ځپلې ټولنې سره ښکاره ظلم دی!**

د ولس غږ

**په افغانستان کې د پراختیايي فعالیتونو په ملاتړ، د نړیوالو مالي بنسټونو او غیر دولتي مؤسسو د فعالیتونو د بیا پیلېدو او د بشردوستانه پروژو د پلي کولو لپاره د ملګرو ملتونو د پرېکړه لیک او د امریکا متحده ایالتونو د خزانه دارۍ وزارت د (۱۸ او ۱۹) جوازونو د تصویب هر کلی کوو او دغه پرېکړه له خلکو، خصوصي سکټور او د هېواد د بانکدارۍ سکټور په برخه کې یو ستر ګام دی.**

د ا.ا.ا. د مالیې وزارت

## امارت اسلامی خواهان روابط دوستانه با تمام جهان به ویژه کشورهای منطقه است

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان با بختی سلطانوف وزیر تجارت قزاقستان و هیات همراه اش، دیدار کرد.
در این دیدار که در ارگ انجام شد و در آن سرپرست وزارت تجارت ا.ا.ا. نیز حضور داشت، هر دو جانب در مورد گسترش روابط و همکاری ها میان دو کشور در عرصه های مختلف به ویژه تجارتی و ترانزیتی، بحث و تبادل نظر نمودند.
ابتدا بختی سلطانوف وزیر تجارت قزاقستان، گفت که کمک‌های بشردوستانه قزاقستان به افغانستان ادامه دارد و ما خواهان تحکیم مناسبات اقتصادی میان دو کشور هستیم. پاتې برخه ۵

## چین د افغانستان اسلامي امارت سره خپلو اړیکو او همکاریو ته دوام ورکوي

د ا.ا.ا. د ریاست الوزراء مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان لپاره د چین له سفیر ښاغلي وانګ‌یو سره وکتل.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د چین لخوا له افغانانو سره د شوو بشري مرستو مننه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې په افغانستان کې باید د اقتصادي بیارغونې لپاره کوټلي ګامونه واخیستل شي.
چین سفیر د فساد پر وړاندې د جدي مبارزې، د نظامي لیکو د تصفیې او د دولتي مامورینو د معاشاتو د ورکړې په تړاو د ا.ا.ا. ګړنې وستایلې او ټینګار یې وکړ چې چین به د افغانستان اسلامي امارت سره خپلو اړیکو او همکاریو ته دوام ورکړي. #

**د افغانستان په تاریخ کې د صادراتو مقدار د لومړي ځل لپاره له یو میلیارد ډالرو څخه واوښت.**

د ا.ا.ا. د صنعت او تجارت وزارت

**۲۵۰ شرکت قزاقستانی با افغانستان در ارتباط اند و از آن میان، نماینده گان ۱٦ شرکت به کابل آمده و سایر سرمایه گذاران در آینده نزدیک نیز به کابل خواهند رسید.**

وزارت امور خارجه ا.ا.ا.

**ما خواهان روابط دوستانه با کشورهای منطقه هستیم و اجازه نمی دهیم از خاک افغانستان هیچ نوع تهدید به کشور دیگر متوجه گردد.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

**قزاقستان آماده است برای محصلان افغان در رشته های مختلف بورسیه های تحصیلی اهدا کند.**

## پالیسی امارت اسلامی این است که همه در رفاه و آرامش زندگی کنند

محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان با رئیس شورا و شماری از اهل هنود و سیک های افغانستان دیدار کرد.

در این دیدار که در قصر سپیدار انجام شد، ابتدا نارندر سینگ رئیس شورای اهل هنود و سیک های افغانستان با بیان اینکه آنان همیشه در آبادی کشور سهم داشته و از تلاش های شان در این راستا دریغ نکرده اند، از امارت اسلامی خواست که زمین و جایدادهای غصب شده اهل هنود و سیک ها را به آنان بازگرداند و در خصوص تدابیر امنیتی درمسال ها و اهل هنود و سیک ها، توجه جدی نماید.

در مقابل محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء ضمن تشکر از حس وطندوستی آنان، گفت که پالیسی امارت اسلامی این است که همه در رفاه و آرامش زندگی کنند و تا مین امنیت همه به خصوص اقلیت ها، مسئولیت ما می باشد.

معاون سیاسی امارت اسلامی، افغانستان را خانه مشترک همه افغان ها خواند و گفت که همه اقوام که در این کشور زندگی می کنند، حق دارند تا در امنیت زندگی کنند و در آبادی کشور سهیم گردند.

وی اطمینان داد که به خواست های اهل هنود و سیک های افغانستان رسیده گی می شود و نهادهای امنیتی در ولایات نیز در این زمینه همکاری خواهند کرد.#

**زما د عفوې احترام وکړئ د تېر نظام کارکوونکو ته د تېرو جُرمونو سزا مه ورکوئ ټول افغانان داسې وبولئ، لکه خپل ورونه.**

امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده

## د هېواد ټولو ورزشکارانو ته دې لا زیاتې اسانتیاوې برابرې شي

د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د اولمپیک ملي کمېټې رئیس نظر محمد مطمئن سره په کتنه کې د اولمپیک ملي کمېټې فعالیتونو ستاینه وکړه وې ویل، د هېواد ټولو ورزشکارانو ته دې لا زیاتې اسانتیاوې برابرې شي او د اسلامي امارت رهبري ژمنه ده چې د ورزشکارانو غوښتنو او وړاندیزونو ته رسیده ګي وکړي.#

**دا د اسلامي امارت مسئولیت دی، چې د خپل غمځپلي او ځوربدلي ولس پر سر لاس را تېر کړي او پر وړاندې یې د ترحم غېږ پرانیزي.**

د ا.ا.ا. د ریاست الوزراء مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند



### مردم افغانستان به جهانیان:

## "ذخایر ارزی ما را آزاد کنید"

وضعیت اقتصادی در افغانستان ناگوار است، تحریم ها را رفع کنید، ذخایر ارزی افغانستان را آزاد کنید و سرنوشت مردم این کشور را به بازی نگیرید.

آنچه در بالا گفته شد، ندای مردم افغانستان است که جهان را مخاطب قرار می دهد و از آن می خواهد که از بازی با سرنوشت مردم این کشور دست بردارند.

نالۀ مردم افغانستان از شرایط و وضعیت دشوار اقتصادی است که همزمان با افزایش بهای دالر دامنگیر آنان شده است. امارت اسلامی مشکلات موجود را زیر نظر دارد و شورای وزیران خواستار اقدامات فوری برای حل بحرانی کنونی در کشور است. چنانچه، سرپرست وزارت خارجه ا.ا.ا. از امریکا خواسته است که تحریم ها علیه افغانستان را بردارد.

اقتصاد افغانستانٍ در جریان چهار دهه اخیر، به یک اقتصاد کاملاً وابسته مبدل شده است و تا چهار ماه قبل تمامی مخارج و مصارف ادارۀ کابل از سوی خارجی ها تمویل می شد. مگر زمانی که امارت اسلامی بر کابل مسلط شد؛ خزانه تهی شده را تحویل گرفت و یک ناهنجاری اقتصادی را از ادارۀ قبلی به ارث برد.

در کنار آن، امریکا اقدام به مسدود کردن دارایی های افغانستان کرد و این باعث شد که روند داد و ستد به صورت کُلی مختل گردد و امریکا با این کار، پا بر حلقوم اقتصاد ناتوان افغانستان گذاشت.

افغانها با توجه به عملکرد امریکا در قبال مردم افغانستان، اقدامات دیپلوماتیک امارت اسلامی را در راستای آزادی سازی دارایی های منجمد شده با راه پیمایی ها حمایت کردند و توقع دارند که این راه پیمایی ها و تلاش های ا.ا.ا. وجدان های خفته آنانی را بیدار کند که با منجمد کردن دارایی های ملی افغانان مردم این کشور را به سوی یک بحران اقتصادی سوق داده اند.

از روزنامه ملی انیس

### فیصله کابینه:

**د افغانستان برشنا شرکت موظف است طرح فروش و کرایه جایدادهای آنعده سیاسیون، زورمندان و مقامات قبلی را که با وجود ابلاغ اطلاعیه این شرکت، مقروضیت‌های ذمه خویش را نپرداخته اند، به منظور حصول قروض شان ترتیب و به جلسه کابینه ارایه نماید.**

**سرمایه گذاران قطر، روسیه و امارت متحده عربی مصمم به کار مشترک و سرمایه گذاری در بخش های پروژه های اقتصادی و زیربنایی در افغانستان اند.**

## بند شاه و عروس



این بند با ظرفیت ذخیرۀ ۹.۳ میلیون متر مکعب آب و توانایی تولید ۱.۵ میگاوات برق در ولسوالی شکردرۀ ولایت کابل موقعیت دارد.

بند شاه و عروس به ارزش ۵۲ میلیون دالر اعمار شده که با افتتاح این بند، ۳۵۰۰ خانواده به گونه مستقیم از مزایای آن بهره مند شده، ۵ میلیون شهروند کابل به آب آشامیدنی دسترسی خواهند یافت و ۳۵۰۰ هکتار زمین زراعتی تحت آبیاری قرار خواهد گرفت. #

**نشست سازمان همکاری‌های اسلامی برای افغانستان یک نشست مهم بود و در این نشست، از ا.ا.ا. حمایت صورت گرفت. هم‌چنان اعضای سازمان همکاری‌های اسلامی روی ادامه کمک‌های بشردوستانه به افغانستان توافق کردند.**

محترم ذبیح الله مجاهد، معین وزارت اطلاعات و فرهنگ و سخنگوی ا.ا.ا.

**د بشر حقوقو سازمان دا ادعا چې اسلامي امارت د ښځو حقونو ته رسیده ګي نه کوي، تش پروپاګند او پارونکې تبلیغات دي. اسلامي امارت د هېواد د ټولو اتباعو (نارینه او ښځینه) حقوقو ته ژمن دی، د هغوی د کار حق، د تعلیم حق او نورو برخو کې حقونه د اسلامي شریعت په چوکاټ کې**

محترم بلال کریمي د افغانستان اسلامي امارت مرستیال ویندوی

**له ټولې نړۍ سره هر اړخیزې مثبتې اړیکې غواړو.**

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت

## د جدي د شپږمې په اړه د افغانستان د اسلامي امارت اعلامیه

۴۲ کاله وړاندې د ۱۳۵۸ لمریز کال د جدي په ۶ مه د پخواني شوروي اتحاد ځواکونو په افغانستان یرغل وکړ.

افغان مسلمان او آزادۍ غوښتونکی ملت د هیڅ یرغلګر اشغال او تجاوز نشي زغملای نو ځکه زموږ با شهامته او مجاهد ولس د شوروي یرغلګر په وړاندې ستر او سرتاسري جهاد پیل کړ چې د لسو کالو په جریان کې یې د وخت شوروي اتحاد ته ماته ورکړه او د هغوی ټول اشغالګر ځواکونه یې زموږ له هېواد څخه وشړل.

د افغانستان اسلامي امارت د خپل ملت په استازولۍ د پخواني شوروي اتحاد یرغل غندي او د هغو په وړاندې د افغان میړني ولس جهاد او مبارزه ستایي.

افغانستان د هیڅ بل هېواد په کورنیو مسائلو کې مداخله نه کوي او بل چا ته هم اجازه نه ورکوي چې زموږ حقه حقوق تر پښو لاندې کړي او په داخلي چارو کې مو لاس وهنه وکړي، افغانان د یوه سوله دوست ملت په توګه غواړي له نړیوالو سره د اسلامي او نړیوالو اصولو په چوکاټ کې ښې او قوي اړیکې تأمین کړي، چې په هغې کې چا ته هم د ضرر احتمال نه وي او د ملتونو د آزادۍ حق خوندي وي.

د افغانستان اسلامي امارت له ټولو لرې او نیږدې هېوادونو څخه هیله لري چې د ښو او پیاوړو اړیکو په جوړولو او تأمینولو کې مثبت رول ولوبوي ترڅو په سیمه او نړۍ کې د امن او سوکالۍ په لور ګامونه واخیستل شي او له پخوانیو جنګ جګړو راپاتې ناخوالۍ، ویجاړۍ او بې باورۍ له منځه لاړې شي.

د افغانستان اسلامي امارت

**ما می خواهیم امارات متحده عربی بخاطر جلوگیری از فقر، در بخش های مختلف با امارت اسلامی افغانستان کمک و همکاری نماید.**

**محترم الحاج ملا عبدالغنی برادر معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.**

## "اسلامي امارت د ټولو ګډ کور دی او په اوسني نظام کې به ټول قومونه مشارکت ولري"

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د بېلابېلو ولایتونو د اهل تشیع استازو سره وکتل.

په دې کتنه کې چې په سپېدار ماڼۍ کې وشوه، سید محمد حسن شریفي بلخابي، ایت الله عالمي او محمد علي اخلاقي د نورو په استازیتوب خبرې وکړې او له اسلامي امارت څخه د ملاتړ اعلان ترڅنګ یې په ولایتونو کې د اهل تشیع ستونزې او وړاندیزونه هم شریک کړل.

دوی وویل: اسلامي امارت دې د خلکو د فزیکي امنیت ترڅنګ رواني امنیت ته هم جدي پاملرنه وکړي او په حکومتولۍ کې دې د اهل تشیع کادرونو څخه ګټه واخیستل شي.

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د بېلابېلو ولایتونو د اهل تشیع استازو له ملاتړ د منني ترڅنګ وویل، اسلامي امارت د ټولو ګډ کور دی او په اوسني نظام کې به ټول قومونه مشارکت ولري.

نوموړي زیاته کړه، د اهل تشیع غوښتنو او وړاندیزونو ته رسیده ګي کېږي او پر هغو به د اسلامي امارت د رهبرۍ په کچه هم بحثونه وشي، که اړتیا شوه د اړوندو ولایتونو والیانو سره به هم اړیکې ونیول شي، ترڅو هېڅ‌اته ستونزه نه وي او د امنیت ترڅنګ د افغانانو هوساینې ته پاملرنه د دولت مسئولیت دی. #

بقیه...

## امارت اسلامی خواهان روابط دوستانه...

وی افزود: تضمین های امنیتی و ایجاد شرایط مناسب برای گسترش روابط تجارتی و ترانزیتی مهم بوده که اکنون فراهم شده است و ما علاقمند توسعهٔ تجارت از طریق افغانستان به پاکستان و جنوب آسیا استیم.

وزیر تجارت قزاقستان تصریح کرد که کشورش در زمینه تربیه کادرهای مسلکی با افغانستان تا اکنون ده هزار بورسیه تحصیلی را اعطا کرده است و ما آماده هستیم که در رشته های مختلف به ویژه بخش تخنیکی و خط آهن، بورسیه های بیشتر را در اختیار افغانستان بگذاریم.

در مقابل، معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان ضمن خوش آمدید به وزیر تجارت قزاقستان و هیات همراه اش، از کمک های بشردوستانه آن کشور به افغانستان ابراز امتنان نموده گفت: اکنون در افغانستان امنیت و صلح سرتاسری برقرار است، فساد اداری خاتمه یافته و شرایط با گذشت هر روز خوب‌تر می‌شود.

وی افزود: ما خواهان روابط دوستانه با تمام جهان به ویژه کشورهای منطقه هستیم و اجازه نمی دهیم که از خاک افغانستان تهدیدی به کشور دیگری متوجه گردد. محترم حنفی گفت که از قزاقستان می خواهیم تسهیلات لازم را به‌خصوص در صدور ویزا در عرصه های تجارتی فراهم سازد و از وصل شدن خط آهن از قزاقستان به اوزبیکستان از طریق افغانستان به آسیای جنوبی، استقبال می کنیم. #

## د کابینې پرېکړه:

**د کورنیو چارو وزارت دې د ولایتونو په مراکزو او ولسوالیو کې په خارجي اسعارو د معاملاتو د مخنیوي لپاره ځانګړي ګروپونه موظف کړي.**

## له ټولې نړۍ سره مثبتې اړیکې غواړو

د متحده عربي اماراتو د هویت، تابعیت، ګمرکونو او بندرونو امنیت فدرالي ادارې رئیس ښاغلی علي محمد بن حماد الشامسي افغانستان ته له رسېدو سره سم د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محترم امیر خان متقي سره پر یو لړ مهمو موضوعاتو خبرې وکړې.

په ناسته کې ښاغلي الشامسي له افغانستان اسلامي امارت سره اړیکې پخوانۍ او قوي وبللې او په اقتصادي، تعلیمي، تخنیکي او کرنې برخو کې یې د همکارۍ او پانګونې یادونه وکړه.

محترم امیر خان متقي د دوی له مرستو مننه او د دوام غوښتنه وکړه، ویې ویل چې د متحده عربي اماراتو په شمول له ټولې نړۍ سره هر اړخیزې مثبتې اړیکې غواړو. دغه راز ښاغلي متقي وویل چې د متحده عربي اماراتو له لارې به د افغانستان د صادراتو کچه لوړه شي. #

**د ا.ا.ا. د ښځو له کاره انکار نه کوي، بلکې د دوی د زده‌کړو او کار کولو برخه تر پروسه لاندې ده؛ اسلام چې دوی ته د تعلیم او کار کوم حقونه ورکړي، موږ انکار نه ترې کوو. اوس په ډېرو ادارو کې ښځې کار کوي او په راتلونکې کې به هم خپل کار ته د شرایطو په پام کې نیولو سره دوام ورکړي.**

محترم ذبیح الله مجاهد د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ا.ا.ا. ویندوی

## د افغانستان برېښنا شرکت او د تاجکستان د برق تاجک شرکت تر منځ د ۲۰۲۲ زېږدیز کال د برېښنا د تورید قرارداد لاسلیک شو

دغه قرارداد د دوه ورځنیو مذاکراتو په ترڅ کې د جانبینو له لوري لاسلیک شو، د دې تر څنګ هغه قرارداد چې د روان کال جولای څخه تر ډسمبر پورې د سیاسي تحولاتو له امله د ځنډ سره مخ شوی وو، هم لاسلیک شو.

د دې تر څنګ د جانبینو له لوري په همدې مذاکراتو کې د انرژۍ په سکتور کې په هر اړخیزو منطقوي او انکشافي پروژو لکه کاسا ۱۰۰۰ او د نوي ۵۰۰ کیلوولټه لین پر جوړولو باندې مفصل بحثونه وشول او د ا.ا.ا. هئیت تاجک لوري ته د ګډو همکاریو ډاډ ورکړ. #

## د ۹۸ پروژو د تطبیق تړونونه لاسلیک شول

د افغانستان اسلامي امارت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ۲۷ ولایتونو د کلیو د پراختیایي شوراګانو سره د ۹۸ پروژه د تطبیق تړونونه لاسلیک کړل.

د یادو پروژه ارزښت ۳۵۷ میلیونه افغانۍ ده چې د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ ادارې (یونیسف) په مالي مرسته به تطبیق شي.

د دغو پروژو په تطبیق سره به شاخوا ۱۸۳۰۰۰ کسان د څښاک د اوبو او حفظ الصحې له اسانتیاوو څخه برخمن شي. همدارنګه، یادې پروژې به د سیمې خلکو ته ۳۰۵۰۰۰ کاري ورځې رامنځته کړي.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي د مرستندویه ادارو سره په ګډه په هېواد کې پراختیایي او اقتصادي پروژو تطبیق ته لاره هواره کړي. #

**۶۰ سلنه خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري او موږ په ټول توان د دې ستونزې د حل هڅه کوو تر څو هېوادوال په اسانۍ پاکې اوبه تر لاسه کړي.**

**د ا.ا.ا. د اوبو او انرژۍ وزارت**

## د افغانستان د کسبګرو او هټیوالو خونې رئیس او د رهبرۍ غړو سره د ریاست الوزراء د سیاسي مرستیال کتنه

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د افغانستان د کسبګرو او هټیوالو خونې رئیس او د رهبرۍ غړو سره په سپېدار ماڼۍ کې وکتل.

په پیل کې د افغانستان د کسبګرو او هټیوالو خونې رئیس نورالحق عمري د یادې خونې د کړنو په اړه د معلوماتو ورکولو ترڅنګ د خونې په ستونزو او وړاندیزونو بحث وکړ.

هغوی په افغاني ټولنه کې د کوچنیو تشبثاتو پر ارزښت د ټینګار ترڅنګ، د افغانستان اسلامي امارت د ملاتړ، د دوکانونو د کرایو او مالیې د کموالي، د طلا د قاچاق او بې کیفیته اجناسو د واردولو د مخنیوي، د ښاروالۍ اصولو، مقررو او کړنو ته د بیاکتنې غوښتونکې شول.

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د افغانستان د کسبګرو او هټیوالو خونې د رئیس او د رهبرۍ غړو د ستونزو او وړاندیزونو له اورېدو وروسته هغوی ته ډاډ ورکړ چې د دوی غوښتنې او وړاندیزونه به د چارو ادارې له لارې ریاست الوزراء ته وړاندې او د حل لپاره به یې اړوندو ادارو سره جدي هڅې وشي. #

**دموکراسی افغانی در عمر ۲۰ ساله اش زایشگاه قهرمان‌های ساختگی بود. مدافعان «دستاوردهای ۲۰ ساله» پیش از همه از افغانستان فرار کردند و حالا در غرب نشسته «مقاومت» را به پیش می‌برند. بسیاری این قهرمانان؛ منتظر قبولی درخواست پناهندگی در اروپا و امریکا اند، تا انجا زنده گی راحت داشته باشند.**

محترم انعام الله سمنگانی معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان

پاتې برخه...

## "د هېواد اقتصادي ودې لپاره ...

په ۵ زرو فابریکو کې نږدې یو نیم میلیون کسانو ته د کار زمینه برابره کړې، چې د ا.ا.ا. یې د فعالیتونو ستاینه کوي.

د صنعت او معدن خونې رئیس شیرباز کمین‌زاده وویل: د دایمي ځمکې نه درلودل، د برېښنا پرچاوې، له بانک څخه د پیسو ایستل او له هېواده بهر د خصوصي سکتور تولیداتو ته د ښه بازار نشتون هغه څه دي، چې دوی یې له ستونزو سره مخ کړي.

د ریاست الوزراء مرستیال اړوندو ارګانونو ته سپارښتنه وکړه چې د یادو ستونزو د حل په موخه دې له خصوصي سکتور سره په ګډه کار وکړي. #

**تا هنوز ۱۸۹۵ نفر در سراسر افغانستان پس از بررسی‌ها از صف کشیده شده، که بعضی شان بازداشت و قضایای شان به محاکم سپرده شده است.**

**کمیسیون تصفیه صفوف**

## با تطبیق پروژه تاپی، افغانستان سالانه علاوه بر گرفتن گاز کافی، بیش از ۴۰۰ میلیون دالر حق ترانزیت گار نیز بدست خواهد آورد

**پروژه تاپی به عنوان یکی از مهمترین پروژه های در سطح منطقه؛ برای افغانستان اهمیت حیاتی دارد. طول مجموعی لوله گاز تاپی ۱۸۱۴ کیلومتر است و این لوله، گاز ترکمنستان را از طریق افغانستان به پاکستان و هند انتقال میدهد. لوله گاز تاپی از ولایت های هرات، فراه، نیمروز، هلمند و قندهار می گذرد و ۸۱۴ کیلومتر از مجموع ۱۸۱۴ کیلومتر آن در خاک افغانستان کشیده می شود.**

**در افغانستان، لوله گاز تاپی در امتداد شاهراه هرات – قندهار کشیده می شود و پس از آن از کویته و ملتان پاکستان می گذرد و در فرجام به هند وصل می گردد.**

**با تطبیق پروژه تاپی، افغانستان سالانه علاوه بر گرفتن گاز کافی، بیش از ۴۰۰ میلیون دالر حق ترانزیت گاز نیز بدست خواهد آورد. برعلاوه، تطبیق این پروژه فرصت های اقتصادی و کاریابی را برای هزاران نفر مستقر در پنج ولایت نامبرده فراهم خواهد ساخت. به همین ترتیب، افغانستان در ده سال اول، سالانه تا ۵۰۰ میلیون متر مکعب گاز، در ده سال دوم، یک میلیارد متر مکعب گاز و در ده سال سوم ۱.۵ میلیارد متر مکعب گاز از این پروژه بدست خواهد آورد. به اساس آمار موجود، با بهره برداری از این پروژه، سالانه ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز ترکمنستان به افغانستان، پاکستان و هندوستان خواهد رسید.#**

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

**صاحب امتياز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
**د اړيکي شمېره:** 202100633 (0) 93+
**ايميل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرينه ماڼۍ، بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان


پاتې برخه...

## رئيس الوزراء د متحده عربي اماراتو د...

افغانستان کې د سوداګرۍ او اقتصادي پياوړتيا، په هلمند او کندهار کې د وچې بندرونو د جوړولو، د رېل پټلۍ او لمريزې برېښنا په بنسټيزو پروژو کې هر ډول مرستې او پانګونې ته چمتو او لېواله يو.
ښاغلي علي محمد بن حماد الشامسي، د اسلامي امارت مشرتابه ته د ترهګرۍ ضد مبارزه کې د خپل هېواد د همکارۍ ډاډ ورکړ وې ويل، موږ غواړو د متحده عربي اماراتو او افغانستان اسلامي امارت ترمنځ روابط لا هر اړخيز او پياوړي شي.
د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء ياد پلاوي ته د هرکلي پرمهال په بېلابېلو برخو کې د متحده عربي اماراتو د مرستو او همکاريو مننه وکړه، د افغانستان او متحده عربي اماراتو ترمنځ روابط يې دوستانه او مخکېني وبلل او د دغو رابطو د لا زياتې پياوړتيا ډاډ يې ورکړ.
د اسلامي امارت رئيس الوزراء څرګنده کړه، افغانستان په تېرو شلو کلونو کې د بېلابېلو اقتصادي ستونزو، وچکالۍ او د بې وزلۍ کچې له لوړوالي سره مخ وو، خو اسلامي امارت د دغو ستونزو د حل په موخه د ټولې نړۍ په ځانګړي ډول د اسلامي هېوادونو او د اماراتو مرستو ته اړتيا لري.
په دغه کتنه کې د اسلامي امارت د رئيس الوزراء مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر ياد پلاوي ته په خطاب کې وويل، موږ غواړو متحده عربي امارات د فقر او بې وزلۍ د کمولو او مخنيوي په اړه په بېلابېلو برخو کې له اسلامي امارت سره مرسته او همکاري وکړي.
د اسلامي امارت د رئيس الوزراء اقتصادي مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي وويل، اسلامي امارت له متحده عربي اماراتو سره د ژورو اړيکو پاللو ته ژمن دی او د کرنې، رېل پټلۍ، لمريزې برېښنا او نورو برخو کې د اماراتو د پانګونې هرکلي او ملاتړ کوي او په هره برخه کې د امنيت تامين او همکارۍ ته ژمن دی.
محترم مولوي عبدالسلام حنفي زياته کړه، د اسلامي امارت پاليسي واضح ده او د افغانستان له خاورې به هيڅ هيواد ته ګواښ پېښ نشي.#

## په تېرو څلورو مياشتو کې ۳۴۰ زره الکترونيکي تذکرې وېشل شوي دي.

د احصايې او معلوماتو ملي اداره

بقيه...

## طرح ۸ ميليارد دالری سازمان ملل...

آقای رامز الاکبروف اضافه کرد: احياء فعاليت های اقتصادی در افغانستان می تواند از خروج دسته جمعی پناهنده گان جلوگيری کند.
با حاکميت امارت اسلامی، کمک کننده گان جهانی بيش از يک ميليارد دالر، برای رفع نيازهای اضطراری بشری تا پايان سال ۲۰۲۱ در افغانستان هزينه کرده اند.
به گفته مسئولان، سازمان ملل برای سال ۲۰۲۲ ميلادی، فراخوانی را برای جلب ۴.۴ ميليارد دالر اعلام خواهد کرد که بزرگترين گردآوری کمک مالی تا به حال برای يک کشور است تا از اين رهگذر، مواد غذايی، سرپناه و ساير نياز های اوليه برای افغانها تامين گردد. #


پاتې برخه...

## اميرالمؤمنين شيخ مولوي هبةالله اخوندزاده په يوې...

زموږ مبارزه په افغانستان کې د مسلمانانو د ازادېدو او په دې خاوره کې په بشپړه توګه د شرعي نظام د راتګ په موخه وه، چې په خبره يې اوس دا دی په ټول هېواد کې په بشپړه توګه اسلامي نظام حاکم شو، نو ټولو ته اوس په کار ده، چې ددې نظام د پرمختګ او ولس ته د هوسا ژوند برابرولو په موخه شپه او ورځ کار وکړي.
د ا.ا.ا. اميرالمؤمنين شيخ مولوي هبةالله اخوندزاده، په خپلو خبرو کې د راغليو ټولو ملکي او نظامي ادارو مسئولينو ته لاندې سپارښتنې وکړې:
۱ـ زما د عفوې احترام وکړئ، د تېر نظام کارکوونکو ته د تېرو جُرمونو سزا مه ورکوئ.
۲ـ ددې هېواد هر وګړی موږ ته قدرمن دئ، د افغانانو قدر او عزت په بل هېواد کې نشته، نو هيڅ افغان دې له هېواد نه وزي، همدلته دې پاته شي، مسئولين، علماء، قومي مشران، واليان او ولسوالان دې دوی ته قناعت ورکړي، چې همدلته هېواد کې پاته شي، دلته يې عزت او قدر کيږي.
۳ـ ټول افغانان اوس موږ ته ګوري او تمه يې موږ ته ده، نو تاسې د دوی د امن وسيله وګرځئ، د دوی د عزت ساتنه وکړئ.
۴ـ په خپله مسئوليت مه غواړئ او مه يې طلب کوئ، که مشر درته مسئوليت وسپاره، نو د امر اطاعت يې وکړئ او هغه مسئوليت سرته ورسوئ.
۵ـ د مشرتابه له لوري د مسئوليت ترسره کېدو په موخه درکول شوي اُصول، طرزالعملونه او لايحې په کلکه عملي کوئ او هيڅ خودسرانه کړنې مه ترسره کوئ.
٦ـ داسې مسئوليت وکړئ، چې سبا په روڼو سترګو ولس ته وکتلای شئ.
۷ـ د ښه مسئوليت ترسره کېدو په برخه کې تل له علماوو څخه مشورې اخلئ.
۸ـ ټول افغانان داسې وبولئ، لکه خپل ورونه.
۹ـ زما په ولس ډېره خوا بديږي، هيڅکله ظلم مه ورسره کوئ، مه يې وهئ، د ظلم پايله بده ده.
۱۰ـ ټول اسباب خدای (ج) په لاس کې درکړي دي، د ظلم او لويي لپاره ورڅخه ګټه مه اخلئ؛ بلکې په هر ډول مسئوليت کې عاجزي وکړئ.
۱۱ـ د عدالت لپاره په ګډه مبارزه وکړئ او هرچاته خپل حق ورسوئ.
۱۲ـ په مسئوليت کې زورواکۍ مه کوئ، د انډيوالۍ دار او مدار مه ساتئ، د ژبې او قوم په اساس چاته دنده مه ورکوئ؛ بلکې د استعداد مطابق دنده ورکوئ.
۱۳ـ د مشرانو احترام کوئ، شکايت ورڅخه مه کوئ، عزت يې کوئ او هيڅ کار د مشرانو بې له اجازې مه کوئ.
۱۴ـ په خپلو منځونو کې پوره همغږي ساتئ، خو د يو بل په کارونو کې مداخلې مه کوئ.
۱۵ـ د خلکو امنيت ته شپه او ورځ متوجه اوسئ، ګزمې او تلاشۍ چې کوی خلګو ته مشکل مه جوړئ.
۱٦ـ څوک چې مو تلاشۍ ته درولي وي، ښه په اخلاقو يې سمبال کړئ، علماوو ته يې کښېنوئ، ترڅو د عامو خلکو سره د تلاشۍ پرمهال ښه سلوک وکړي.
۱۷ـ ددې نظام سره کلک ودرېږئ او ټول په يوه اتفاق سره د امارت څنځير همداسې ټينګ وساتئ.
۱۸ـ لوی امتحان کې شتون لرو، راځئ دې امتحان کې په ښه ډول بريالي شو، راشئ ښه تاريخ جوړ کړو. #

## د افغان او روسي پانګوالو ګډ پلاوي سره د اسلامي امارت د رياست الوزراء د مرستيال کتنه

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د افغان او روسي پانګوالو ګډ پلاوي سره وکتل.
په دې کتنه کې د نفت او ګازو د رااېستلو او تصفيه کولو ځای د تاسيس په اړه د هڅو او د سي ان جي او ال ان جي دستګاوو او د سمنټو د توليد شرکت د ايجاد په اړه تفصيلي بحث او خبرې وشوې.
ډاکټر سکندر د يادو پانګوالو په استازيتوب د خبرو پرمهال په يادو برخو کې د پانګونې لپاره خپله لېوالتيا وښوده.
محترم مولوي عبدالسلام حنفي د پانګونې لپاره د هغوی لېوالتيا څخه په مننې، په افغانستان کې د پانګونې د ښو شرايطو او زمينو برابرولو ډاډ ورکړ.#




**په افغانستان او سيمه کې امنيت د اسلامي امارت د شتون له امله دی. د اشغال په وخت کې هم، اسلامي امارت له يوې خوا د اشغال په وړاندې جهادي هلې ځلې کولې او له بلې خوا يې په هېواد کې د غلو او اختطافګرو مخه نيولې وه.**

محترم سهيل شاهين، په ملګرو ملتونو کې د ا.ا.ا. سفير او دايمي استازی


**زما په ولس ډېره خوا بديږي هيڅکله ظلم مه ورسره کوئ د ظلم پايله بده ده د عدالت لپاره مبارزه وکړئ او هر چاته خپل حق ورسوئ.**

اميرالمؤمنين شيخ مولوي هبة الله اخوندزاده

**در جريان چهار ماه گذشته، يك و نيم ميليارد افغانى از ده در صد ماليات بر کريدت کارت های تيلفون های همراه جمع آوری شده است.**

وزارت مخابرات و تکنالوژی مخابراتی ا.ا.ا.

## د دې ګڼې انځور



پس از آنکه کابل به تصرف مسلمانان عرب درآمد و فروغ جاودانی دین مبین اسلام در وادی کابل تابید، سران اسلام و برخی از اصحاب کرام با ابتکاری که داشتند در لب دریای کابل به دست خويش سنگ اول اين مسجد را گذاشتند.
کار ساختمان فعلی اين مسجد در زمان سلطنت تميورشاه درانی در سال ۱۱۸۷ هجری قمری آغاز گرديد و در سال ۱۲۱۳ هجری قمری توسط شاه زمان پسر تميور شاه تکميل گرديد.
اين مسجد دارای سه دالان، هفت وراق و بيست و يک گنبد می باشد. در وسط گنبد مسجد يک چراغ بزرگ با شکل کروی و با وزن ۱۶۰۰ کيلوگرام آويزان است که ۳۰۰ چراغ در آن روشن می شود. به همين ترتيب، به طول ۸۸ متر بروی ديوار های بيرونی مسجد آيات از قرآن کريم به خط کوفی و ثلث خطاطی شده است.
اين مسجد در دو طبقه اعمار گرديده که در يک وقت گنجايش سه هزار نماز گزار را دارا می باشد.